نړیوال بانك
له بې وسۍ، فقر او غربت څخه ژغورلي
نړۍ ته د رسېدلو لپاره هلې ځلې

# د پيسو نړيوال صندوق

| | |
|---|---|
| اړيکي: نړیوال بانک په واشنگټن کی: اريك نورا ۴۷۳۵ ۴۵۸ (۲۰۲)<br>بریښنا لیک: enora@worldbank.org<br>د پيسو نړيوال صندوق په واشنگټن کي: اولگا ستنكوفا (۴۹۳۹ - ۶۳۲ ۲۰۲)<br>Ostankova@imf.org | خبری خپرونه نمبر: SAR ۲۰۰۸/۰۱۳ |

## د نيستمنو او ډېرو پوروړو هيوادونو تر نوښت لاندې د پيسو نړيوال صندوق او نړيوال بانك د افغانستان د پورونو په دايمی بخښنه کی مرسته کوی

**واشنگټن، د ۲۰۰۷م کال د جولای د مياشتې ۹مه نيټه** – د پيسو نړيوال صندوق او د نړيوال بانك نړيوالې پرمختيايی ادارې موافقه کړې ده چې د افغانستان جمهوری اسلامی دولت لازم پړاونه نيولي دي ترڅو د بيوزلو او ډيرو پوروړو هيوادونو د په نوښت کې شامل شي. د افغانستان اسلامی جمهوريت يوديرشم هيواد دی چې ددې نوښت په لست کی ګډون کوی. د نوموړی نوښت لاندې[1] نيستمن او ډير پوروړی هيوادونه کولای شی د خپلو پورونو د موقتی بخښنې جوګه شي.

د پيسو د نړيوال صندوق د اداري مرستيال ښاغلي موريلو پورتوګال، داسې وويل: د امنيتی ستونزو او د لګښتونو د دوامداره فشارونو سره سره، افغانستان د لوی اقتصاد د ثبات په ساتلو او د خپل جوړښتيز اصلاحاتی آجنډاوو په پراختيا بريالی شوی دی. خو د ددې نوښت لاندې د پور د بخښنې سره به بيا هم د بهرنيو پورونو وضعيت ستونزمند پاتې شي. د عامه مالي چارو د اداري، د بهرنيو پورو نو د اداري او د عامه لګښتونو د پاليسۍ د ښه والي لپاره هڅې او همدارنګه د امتيازی شرايطو پر بنسټ د تمويل کوونکو (ډونرانو) دوامداره مرستې په منځ مهاله او اوږدمهاله موده کې د پورونو دثبات لپاره خورا مهمې دي.

د افغانستان د اسلامي جمهوريت لپاره د نړيوال بانك رئيس ښاغلی الستير مكچينی، وويل: د افغانستان چارواکي د اقتصادي حاکميت د اصلاحاتو د پلي کولو لپاره د ډاډ وړ ريکارد لاس ته راوړي. د بيوزلو او ډيرو پوروړو هيوادونو د نوښت په بنسټ به د پور بخښنه د ددې هيواد د اصلاحاتو د مسؤلينو سره مرسته وکړي ترڅو دغه ريکارد وساتي او لا نور يې هم ښه کړی. همدارنګه، له دې سره به داسې منابع برابر شی چې د روغتيايی بنسټيزو خدمتونو، د ښوونې او روزنې او نورو لازمو خدمتونو د برابرولو لپاره به ولګول شي کوم چې د نړيوالې پرمختيايي ادارې او نورو تمويل کوونکو له خوا د ملي بودجې له لارې تمويليږي.

د افغانستان جمهوري اسلامی دولت به له ځينو پور ورکوونکو څخه د پور لنډمهال معافيت ترلاسه کړی خو د دې لپاره چې د پور د قطعي بخښنې مستحق شي، دې هيواد ژمنه کړې ترڅو يو لړ پراخ بنسټه ريفورمونه پلي کړي. په ځانګړي توګه د افغانستان د جمهوري اسلامي دولت څخه تمه کيږي چې د لوی اقتصاد ثبات داسې وساتي چې د پيسو د نړيوال صندوق د لوړې د کمښت او ودې د آسانتياو د پروګرام لاندې يې اجراات د قناعت وړ ثابت شی. همدارنګه نوموړی هيواد بايد د لوږې د کمښت ستراتيژي لږ تر لږه د يوکال لپاره برابره او پلي کړي او د عامه مالي چارو د اداري، د عامه لګښتونو د پاليسۍ، د بهرنيو پورونو د اداري او نورو ټولنيزو او جوړښتيزو ګامونو په برخه کې دې اساسی اصلاحات تطبيق کړي.

---

[1] د پور د بشپړې بخښنی د مودې تر رارسيدو پورې هيوادونه کولای شي چې په لنډ مهاله توګه د پور بخښنه ترلاسه کړي

کله چې د افغانستان اسلامي جمهوريت د بيوزلو او ډيرو پوروړو هيوادونو تر نوښت لاندې د پور د دايمی بخښنې وړتيا ترلاسه کړي، نوموړی هيواد به د څو اړخيزه پور د بخښنې په نوښت کې د مرستې مستحق هم شی. دغه مرسته به د لوړې د کمولو په اړوند د دولت اوسني منابع لازيات کړي.

### د پور د بخښنې ځانګړتياوې

- د افغانستان د اسلامي جمهوريت هغه بهرنی پورونه چې د عامه سکتور اړوند او يا د نوموړی سکتور په واسطه تضمين شوی دی، د ۲۰۰۶ کال د مارچ په شلمه يې ارزښت کابو ۱۱،۹ ميلياړده ډالرو ته رسيږی چی اوسنی خالص ارزښت يې د ۱،۱ مليارده ډالرو ته رسيږی. [2] [3]
- د بيوزلو او ډيرو پوروړو هيوادونو تر نوښت لاندې د هغه پورونو اوسنی خالص ارزښت ، ۴. ۵۷۱ ميليونه امريکايي ډالره اټکل شوی دی، چې د پورونو د بخښنې د مروجو ميکانيزمونو د بشپړو کارولو څخه وروسته، د هغه هيواد د پور په کچه کې ۵۱ په سلو کې لږوالی ښيی. د وخت په تيريدو سره، دغه کار به د افغانستان د اسلامی جمهوريت د پورونو د تاديې مکلفيت تر ۳. ۱ بليونو امرکايي ډالرو پورې کم کړي.
- د نړيوالې پرمختيايي ادارې او د نړيوال پولي صندوق د بورډ له خوا د پورونو د دايمی معافيت له تصويب څخه وروسته به نوموړې اداره د ياد شوی نوښت پر بنسټ خپله مرستندويه ونډه چی اوسنۍ سوچه ارزښت يې ۷۵،۲ ميليونه ډالرو ته رسيږی، برابره کړی. د افغانستان اسلامی جمهوريت د پيسو د نړيوال صندوق څخه داسې پورونه په غاړه نلری چې د ياد شوی نوښت په بنسټ د بخښنې وړ وی. له هغه ځايه چې د نوموړی نوښت پر بنسټ د پورونو بخښنه په ګډه ترسره کيږی، نو د بخښنې وړ پور پاته برخه به د افغانستان د نورو پور ورکوونکو له خوا وبخښل شی.
- که چيرې د افغانستان د پورونو بشپړه بخښنه د ۲۰۰۹کال تر نيمايی پوری سرته ورسيږی ، نو د نړيوالې پرمختيايی ادارې د هغه پورونو اوسنی سوچه ارزښت چې د څو اړخيزه پور ونو د بخښنی د پروګرام په بنسټ به صورت ومومی، ۱۴،۳ ميليونه ډالرو ته ورسيږی او د وخت په تيريدو سره به يې ارزښت ۳۷،۶ ميليونه ډالرو ته پراختيا ومومی. د افغانستان اسلامی جمهوريت د پيسو د نړيوال صندوق څخه داسې پورونه په غاړه نلری چې د ياد شوی پروګرام په بنسټ د بخښنې وړ وی.

### د مسئولو مديرانو لپاره يادونه:

د دوو لسيزو څخه زياتې جګړې او سياسي بيثباتۍ افغانستان په نړۍ کې يو ډير بيوزله هيواد ګرځولۍ دی. . په ۲۰۰۵م کال کې د يوه تن عايد ۲۷۱ امريکايي ډالره اټکل شوی وو چې دغه رقم د بشر په ډيرو پرمختيايي شاخصونو کې افغانستان د ګاونډيو هيوادو په پرتله ډير بيرته پاتې ورښيي. خو بياهم ، په وروستيو کلونو کې دې هيواد د سياسي، اقتصادي او د ټولنيزو بدلونونو په ډګر کې د پام وړ پرمختګ کړی دی. د نوي اساسي قانون (د ۲۰۰۴م کال د جنوری مياشت) د تصويب او د جمهوري رياست او پارلماني ټولټاکنو (په ترتيب سره د ۲۰۰۴م کال د اکتوبر مياشت او د ۲۰۰۵م کال د دسمبر مياشت) څخه وروسته هغه انتقالي سياسي پرمختګ چې د ۲۰۰۱م کال په وروستيو کې پرې موافقه شوې وه اوس مهال بشپړ شوی دی. په ۲۰۰۲ – ۲۰۰۳م کال کې افغانستان خپل پاتې پورونه د آسيا پرمختيايي بانك، د نړيوال بانك او د پيسو د نړيوال پولي صندوق سره تصفيه کړل. د ۲۰۰۲م کال نه را په دې خوا، نړيوالې پرمختيايي ادارې په افغانستان کې څه د پاسه ۲۰ پروژې او د د بودجی سره د مرستې دری عملياته تمويل کړي دي.

پورتنی فعاليتونه په دا لاندې چارو باندې تمرکز کوي:

---

[2] د پور سوچه اوسنی ارزښت په راتلونکې وخت کې د ادا وړ ټولو پورونو د تنزيل شوې مجموعې څخه عبارت دی ( چې د اصلی پور او ټکتانې څخه جوړ شوی دی.) د نوموړی ارزښت په بنسټ، د يوه هيواد د ټولو پورونو شرايط په پام کې نيول کيږی. کله چې د ټکتانی نرخ د بازار د جاری نرخ څخه ټيټ وی، نو اوسنی سوچه ارزښت يې د ظاهری ارزښت په پرتله کم وی چی توپير يې د مرستې څخه عبارت دی. د پور ظاهری ارزښت د هغه ادا وړ پور د ريښتونی ارزښت څخه عبارت دی چې په ټاکلی موده کې بخښل کيږی.

[3] د يادونې وړ ده چې د افغانستان د اسلامی جمهوريت د پورونو ظاهری ارزښت د روسيې د هيواد د پورنو د ۸۰ په سلو کې تنزيل څخه مخکې ټاکل شوی خو اوسنی سوچه ارزښت يې د نوموړی پور د تنزيل څخه وروسته حساب شوی دی.

(۱) د دولت کاري او حساب ورکولو ظرفیت ته وده ورکول تر څو د داسې خدمتونه برابر شی چې د وړاندې کولو، د لاس رسیدنې وړ وي او ښه کیفیت ولري.

(۲) د کلیوالي اقتصاد وده او د کلیوالي معیشتونو ښه والی،

(۳) د سیالیزه، عصری او رسمی خصوصی سکتور په وده کې مرسته کول.

د پیسو د نړیوال صندوق د کارکوونکو د څارنې د پروګرام پر بنسټ پر له پسې اجراات ددی لامل شول چې د نوموړی صندوق د لوړې د کمولو او د ودی د آسانتیاوو د پروګرام په اساس د دری کلنې موافقی لاره اواره شی، چې د ۲۰۰۶م کال د جون په میاشت کې تصویب شوه. دغه موافقه د پور ورکوونکو سره د روابطو په تنظیم کې یوبل ګام دی چې د پورونو د شرایطو د بیاکتنی موافقتنامه د پاریس د کلوپ له خواد ۲۰۰۶م کال د جون په میاشت کې امضا شوه. . د ۲۰۰۶م کال د جنوری په میاشت کې دولت د لوړې د کمښت د ستراتیژۍ موقت پروګرام چې د کابینې له خوا تصویب شو، د لندن کنفرانس ته وړاندې کړ. د لوړې د کمښت د ستراتیژۍ د نهایی سند لپاره چمتوالی په ښه توګه پرمخ درومي.

**د نیستمنو او ډیرو پوروړو هیوادونو نوښت:**

په ۱۹۹۶ کال کې، نړیوال بانك او دپیسو نړیوال صندوق د نیستمنو او زیاتو پوروړو هیوادونو نوښت په کار واچوه تر څو داسې یو جوړښت رامنځ ته کړي چې د هغه په ترڅ کې ټول پور ورکونکي، ( د څو اړخیزه پور ورکونکیو په ګډون) وکړای شي د نړۍ بیوزلو او ډیرو پوروړو هیوادونو ته د پور بخښنه برابره کړي، او په دې توګه د اقتصادي ودې او د لوړې د کمښت په وړاندې هغه خنډونه لرې کړي کوم چې د پور د ادا کولو د دروند پیټي له کبله پر دې هیوادونو باندې منل شوی دي. په ۱۹۹۹م کال کې په نوموړي نوښت کې بدلون راوستل شو تر څو دا لاندې چاروکې ښه والی راشی:

**ژور او پراخ معافیت او مرسته:** د نوښت د وړتیا لپاره د بهرني پور کچه د اصلي چوکاټ په پرتله راکښته شوه. په پایله کې، د نړۍ نور هیوادونه هم د پور د خلاصون مستحق وګرځیدل او بیا ځینې هیوادونه د لازیاتې مرستي یا خلاصون جوګه شول.

**ګړندی بخښنه:** یو شمیر پورورکوونکیو د نوموړی نوښت په لست کې د بیوزله هیوادونو د ګډون په مهال د پور مینځ مهاله خلاصون پیل کړل. همدارنګه نوي جوړښت هیوادونو ته موقع ورکړه تر څو د پور د بشپړې بخښنې مودې ته په چټکتیا سره ورسیږي.

**د پور د خلاصون او د نیستي د کمولو ترمنځ غښتلې اړیکه:** د پورونو د بخښنې څخه برابری شوی سرچینې به د لوړې د کمولو د هغې ستراتیژۍ سره د مرستې لپاره ولګول شی چې د اړوندو دولتونو له خوا د پراخې مشورتی کړنلارې په ترڅ کې رامنځته شوې ده.

تر اوس مهاله د نړۍ ۳۱ نیستمن او ډیر پوروړی هیوادونه د نوموړی نوښت په لست کی شامل شوی دی ( د پورونو موقتی بخښنه یې لاس ته راوړې ده) چې د هغوی له ډلې څخه ۲۲ هیوادونه د پور د دایمی بخښنې جوګه ګرځیدلی دی.

###